تاج محمد تمکين ۲۰۱۲/۰۷/۱۲

# مزد يا اجوره څه معنی لري

په ورځني ژوندکي ډير اورو چي د احمد مزد يا اجوره کي زياتوالی راغلی دی، د احمد حقيقي اجوره زياته شوه او داسي نور، راځئ نن په دې وغږيږو چي د مزد يا اجورې نه موخه څه ده او همدا هم چي اجوره يا مزد څه ته وايي. د مزد نه هدف هغه معاوضه ده چي يو کارکونکي ئي دخپل ذهني يا جسمي کار په بدل کي ترلاسه کوي لکه يو څوک چي په فابريکه، دفتر، اداره يا دوکان کي کارکوي او دخپل ناظم، منيجر او ياهم يوې اداري نه معاوضه حاصلوي. مزد په دوه قسمه دي:

1. پولي مزد(Money Wage)
2. حقيقي مزد( Real Wage)

1. پولي مزد: دي ته ظاهري مزد (Nominal Wage) هم وائي. ددي نه هدف هغه معاوضه يا مزد ده چي يو مزدور يا کارکونکي ته دهغه دکاربدل (دپيسو په شکل) کي ورکول کيږي. مثلاً درخت جوړولو تصدی کي د مزدور مياشتني معاش ۷۰۰۰ افغانۍ دي، د محاسب ۸۰۰۰ افغانۍ او د ډيزاين کوونکي ۱۰۰۰۰ افغانۍ دي او ياهم اوسمهال په افغانستان کي په توليدي کمپنيو کي د دې نورې بيلګې ليدلای شو.
2. حقيقي مزد(Real wage): پدي کي د معاش نه علاوه هغه ټولي ګټي، امتيازات او مراعات شامل دي چي کوم کارکوونکي ته دکار کولو په دوران کي حاصليږي. لکه مفت طبي کومک، داغوستلو لباس، دلارې کرايه، د کور کرايه وغيره په بعضو کارخانو کي د مزدورانو لپاره د پولي مزد په نسبت حقيقي مزد ډير اهميت لري پدي باره کي ادم سمت وائي.((ديو مزدور ثروتمندي يا فقر، ښه معاوضه يا کمه معاوضه، د هغه د کار د پولي قيمت(مزد) په عوض د حقيقي مزد د تناسب سره ټاکل کيږي)) په همدې بنسټ کارکونکي دپولي مزد په نسبت حقيقي مزد ته ډير ارزښت ورکوي او مخکي له مخکي نه د حقيقي مزد باره کي ځان خبروي.

**دحقيقي مزد عوامل:**

د دوومختلفو مزدورانو د حقيقي مزدونو د مقايسه کولو لپاره څو نوري خبري هم په نظر کي نيول کيږي چي اوس ئي ذکر کوو يعني که داسي ووايو چي په اصل کي حقيقي مزد پلاندي ټکوپوري اړه لري بده به نه وی:

1. د پيسو د پيرودلو توانائي: د پيسو د خريد توانائي(د قيمتونو سطح) په مختلفو ځايونو کي مختلف وي نو ځکه چيرته چي د پيسو د خريد قوت زيات وي يعني اشيا ارزانه وي هلته به د مزدورانو حقيقي مزد زيات وي او برعکس حالت کي به کم وي. مثلا يو سړي کابل کي نوکر دي او بل يو کلي کي نوکر دي د دواړه مياشتني مزد ۵۰۰۰ افغانۍ دي د کابل والاپه نسبت د کلي نوکرګټه کي دي ځکه چي کابل کي د کور کرايه قيمته ده، خوراکي موادو قيمت لوړ دي. دضرورت وړ نور اجناس هم قيمت دي نو ځکه مونږ وايو چي په ظاهري ډول د دواړو کارګرانو معاش مساوي دي. خو حقيقت کي د کليوال نوکر مزد زيات دي ځکه چي هغه په هغومره پيسوزيات شيان حاصلولاي شي يعني حقيقي مزد يي زيات دي.
2. د زيات مزد يا اجوري امکان کچيري کارکوونکي ته دعام کارنه علاوه د نور کار په کولو سره د معاوضي د حاصلولو چانس ملاويږي نو دهغه حقيقي مزد به زيات وي لکه يو پروفيسر دکانکور په ازموينه کي دنګراني کولو يا د ازمويني د پاڼو په کتلو سره د معاش نه علاوه هم عايد حاصلوي ولي بعضي کارونه داسي هم دي چيرته چي د معاش نه علاوه د نور کارکولو موقع نه پيداکيږي او نه زيات عايد حاصليږي. نو ځکه د يو پروفيسر حقيقي عايد زيات وي.
3. زيات سهولتونه: د بعضو محکمو کارکونکو ته د معاش نه علاوه وړيا د اوسيدو ځاي او د اغوستلو لپاره وړيا لباسونه ورکول کيږي. د داسي کارکوونکي حقيقي مزد زيات وي نسبت هغو مزدورانو يا کار کوونکو ته چاته چي دا سهولتونه نه ورکول کيږي.
4. د کار دائمي کيدل يا موقتي کيدل: د ټولونه غټه خبره چي د يو مزدور په حقيقي مزد باندي اثر کوي د کار دائم والي او ياهم موقت کيدل دي. که کار دائمي يا مستقل وي او تنخواه يي کمه وي نوپه دې وخت کي مزدور داسي کارته لومړيتوب ورکوي د کوم معاش چي زيات وي ولي کارئي موقتي وي. نو پدي وجه


افغان جرمن آنلاين تاسو په درنـښت همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادښت: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېرلو مخکي په ځير و لولـئ

بعضي خلک د شخصي تصديو په ځاي دولتي ادرو کي کار کول خوښوي. نو ځکه د موقت کار په مقابل کي د دائمي کارکوونکي حقيقي مزد زيات ګڼل کيږي اگر که د دواړو کارکوونکو پولي مزد مساوي وي.

5. د کارکولو وختونه: حقيقي مزد د کار وختونو پوري هم اړه لري که د دوه مختلفو مزدورانو معاش يوشي وي ليکن په هغوي کي يو کم کار کوي د دوهم په نسبت نو دهغه حقيقي مزد زيات دی مثلا په بانکونو او سوداګريزه ادارو کي کارکوونکي تر ډيره ناوخته پوري کار کول ولي په عامو دفترونو کي کار کم وي.
6. د پرمختګ امکانات: پکومو ادارو کي چي د مزدورانو د پرمختګ امکانات زيات وي هلته به حقيقي مزد زيات وي اوپه کومو کارونو کي چي د پرمختګ امکانات نوي نو د هغهو مزدورانو حقيقي مزد به کم وي اګر که ظاهري مزد کي سره مساوي هم وي.
7. اختيارات: په کوم کار کي چي مزدور يا افسر ته کافي اختيارات ملاوشي چي دهغه په عهده او اثررسوخ کي د اضافي وجه وګرځي نو خلک داکار د نورو کارونو په نسبت خوښوي. اگر که د درجي او معاش له نګاه نه دولتي کارونه مساوي هم وي. لکه دښووني او روزني شعبه کي، پوليس او نورودولتي کارونو کي د يو درجي دافسرانو په شان وشوکت او اختياراتو کي ډير فرق شته. نو ځکه خلک غواړي چي دښووني او روزني اداره کي او ياهم نورو دولتي ادارو کي کار وکړي.

پای


افغان جرمن آنلاین په درښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادښت: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکي په ځير و لولئ